# زه به دا بیرغ هغه چا ته ورکړم چې د الله او د هغه له رسول لاسونو فتحه راولي‌سره مينه لري او الله به د هغه په

له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خېبر په ورځ وويل: «زه به دا بيرغ هغه چا ته ورکړم چې د الله او د هغه له رسول سره مينه لري او الله به د هغه په لاسونو فتحه راولي» عمر بن الخطاب رضى الله عنه وايي: ما هېڅکله اميريت نه دی خوښ کړی مګر په هغه ورځ، وايي؛ ځان مې ورته رانيغ کړ چې غږ راته وشي، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم علي بن ابي طالب ته غږ وکړ او بيرغ يې ورکړ او ورته يې وويل :«لاړ شه او تر هغه پورې آخوا دېخوا ونه ګورې تر څو چې الله تعالی برى نه وي درکړی» وايې علي يو څه مزل وکړ بيا ودريد او شاته يې ونه کتل، او چغه ئي کړه چې ای د الله رسوله! د څه لپاره له خلکو سره وجنګېږم؟ هغه وفرمايل :«تر هغه پورې ورسره وجنګيږه چې ګواهي ورکړي چې له الله پرته بل حق معبود نشته او پر دې چې محمد د الله رسول دی، نو کله يې چې دا کار وکړ، خپله وينه او مال يې درڅخه خوندي کړل، مګر دا چې په حق وي (يعني وينه يې په حق توی شي او مال يې په حق واخيستل شي) او حساب به يې له الله تعالی سره وي».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته سبا ورځ مدينې منورې ته څېرمه د خيبر ښار په يهودانو د مسلمانانو د بريا خبر ورکړ او دا چې دا کار به د هغه چا په لاس کېږي چې دی به هغه ته بيرغ ورکوي، هغه چې پوځ يې د نښان په توګه کاروي، د دې سړي يوه ځانګړتيا دا ده چې هغه له الله او رسول سره مينه لري او الله او رسول يې ورسره مينه لري. او عمر بن الخطاب رضي الله عنه يادونه وکړه چې هغه هېڅکله مشري نه ده خوښه کړې پرته له دې ورځې چې ده ته ورکړل شي، په دې هيله چې کوم څه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله او د هغه د رسول د مينې په اړه وويل هغه تر لاسه کړي، نو له دې امله عمر رضي الله عنه ځان نيغ کړ تر څو يې رسول الله صلی الله علیه وسلم وګوري؛ پدې هيله چې د مشر لپاره بلنه ورکړي، او ليوالتيا يې درلوده او ټينګار يې کاوه چې بيرغ ورکړل شي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم على بن ابى طالب رضي الله عنه راوبله او بيرغ يې ورکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته امر وکړ چې له لښکر سره حرکت وکړي او کله چې دښمن سره مخ شو نو؛ جګړه به نه دروي؛ نه به دمه کوي او نه به سولې ته غاړه ږدي، تر څو الله تعالی د لويو برجونو او قلاګانو فتح او بريا ورنصيب کړي او پر دښمن يې برلاسی کړي. نو علي رضي الله عنه روان شو، بيا ودريد خو شاته يې ونه کتل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امر مخالفت ونه شي او په لوړ غږ يې وويل چې: اې د الله رسوله! د څه له امله له خلکو سره وجنګېږم. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: تر هغه ورسره وجنګېږه چې په دې خبره ګواهي ورکړي چې له الله پرته بل حق معبود نشته او پر دې چې محمد د الله رسول دی، نو کله يې چې دا ومنل او په اسلام کې داخل شول؛ نو ستا څخه يې خپلې وينې او مالونه په امن کې کړل او پر تا حرام شول؛ مګر دا چې په حقه وي؛ يعنې دا چې که چېرته جرم او يا تيری وکړي او بيا د اسلام د قوانينو پر بنسټ د وژلو مستحق وګرځي، او حساب به يې له الله سره وي.